# دَدُرود شریف برکتونه



اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَارَسُوْلَ اللّٰہ    وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَاحَبِیْبَ اللّٰہ


شیخ طریقت، اَمیر اَہلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ اِنْ شَآءَاللّٰه څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج ص۰ دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالب غم مدینه بقیع ومغفرت

د رسالے نوم: دَدُرود شريف برکتونه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

## پيشکش: مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

ناشِر: مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچئ.

**مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته**

کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه ته رجوع اوکړئ.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# دَ دُرود شریف برکتونه

**دعائے عطّار:** یا اللہ پاکه! څوك چې دا رِساله "**د دُرود شریف فضیلت**" اُولولِي یا ئې واورې د هغه نه همیشه د پاره راضي شې او هغه ته په مدینه منوّره کښې د دُرود و سلام لوَستلو په وخت کښې د حبیبِ پاك صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دیدار کولو کولو کښې عافیّت سره شهادت نصیب کړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## په کثرت سره دُرود شریف لوَستلو والا ماشومه

یو ځل حضرت شیخ محمّد بن سُلیمان جَزولي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ اودس کولو د پاره د یو کوهي خواه ته لاړو خو د کوهي نه اوبه راوښکلو د پاره څه څیز نه وُو. شیخ صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پریشانه شو چې څه اُوکړي؟ په دې کښې د یو اوچت مکان نه یوے ماشومې اُولیدلو او ورته ئې اُووئیل: یا شیخ! تاسو هغه کس ئې د چا د نیکو چې ډیره شُهره ده، د دې باوجود هم تاسو پریشانه ئې چې د کوهي نه اوبه څنګه را اُوباسم! بیا هغې ماشومې په هغه کوهي کښې خپل لعاب (یعني لاړې) توك کړې. په لږ ساعت کښې د کوهي اوبه په بره راختل شروع شوې تر دې چې اوبه د کوهي د غاړو نه رابهر شوې او په زمکه باندې بهیدل شروع شوې. شیخ اودس اُوکړو او هغه ماشومې ته ئې اُووئیل: زه تا له قسم درکووم: [دا اُووایه] چې تا دا

مرتبه څنګه حاصِله کړي ده؟ هغې ماشومې په جواب کښې اُووئيل: زه په نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرودِ پاك په کثرت سره وايم. دا ئې چې واوريدل نو شيخ سُليمان جزولي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه قسم اُوکړو چې زه به په دربارِ رِسالت کښې پيش کولو د پاره د درود و سلام کتاب ضرور ليکم. (مُطَالِع المسرات مترجم، ص٣٣،٣٤) بيا هغوئي ''دَلَائِلُ الْخَيْرات'' نومې کتاب اوليکلو او هغه کتاب ډير زيات مشهور شو.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ''بِسْمِ الله'' د 7 حُروفو په نِسبت د درود شريف 7 فضائل

(١) **حضرت** سيدنا ابو هُريره رَضِیَ اللهُ عَنْه نه رِوايت دے چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: چا چې په ما باندې يو ځل دُرود شريف اُولوَستلو الله پاك به په هغه باندې لَس رحمتونه نازِل کړي. (صحيح مسلم، ص٢١٦، حديث:٤٠٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

(٢) حضرتِ سيدنا انس بن مالك رَضِیَ اللهُ عَنْه نه رِوايت دے چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے چا چې په ما باندې يو ځل دُرود شريف اولوَستلو الله پاك به په هغه باندې لَس رحمتونه نازِل

کړي او د هغه لَس ګناهونه به ختم [یعني معاف] کړي. (اَلاِحسان بترتیب صحیح ابنِ حبان، ج۲ص۱۳۰حدیث:۹۰۱)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

(۳) حضرتِ سَیِّدُنا ابو بَرده بن نیار رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې نبي کریم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمائي: زما د اُمّت نه چې کوم کس د زړه د اخلاصه په ما باندې یو ځل درود شریف اُولوَستو، اللّٰه کریم به په هغه باندې لس رحمتونه نازِل کړي او د هغه د پاره به لس نیکئ لیکي او د هغه لس درجے به اوچتې کړي او د هغه لس ګناهونه به ختم [یعني معاف] کړي. (معجمِ کبیر، ج۲۲ص۵۱۳)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

(٤) حضرتِ سَیِّدُنا ابو اُمامه رضی اللہ عنہ نه وایت دے چې د نبي کریم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمانِ عالیشان دے: د هرې جُمعے په ورځ ما باندې د دُرود شریف کثرت کوئ بے شکه زما د اُمَّت دُرُود شریف د هرې جُمعے په ورځ په ما باندې پیش کیږي، (د قیامت په ورځ) به په خلقو کښې ما ته زیات نزدې هُم هغه کس وي چا چې (په دُنیا کښې) په ما باندې زیات درود شریف وئیلے وي.

(سُنَنُ الکُبرٰی، ج۳ص۳۵۳حدیث:۵۹۹۵)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

(٥) حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ مسعود رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې د نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ عاليشان دے : بے شکه په ورځ د قيامت به هغه کس ما ته د ټولو نه زيات نزدے وي چا چې ما باندې دُنيا کښې زيات دُرود وئيلي وي. (الاحسان بترتيب صحيح ابن حبان، ج۲، ص ۱۳۳، حديث:۹۰۸)

(٦) نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! بے شکه په تاسو کښې به په ورځ د قيامت د هغې د ويَرو او حِساب کِتاب نه زَر نجات حاصلوونکے هغه کس وي چا چې په دنيا کښې په ما باندې کثرت سره درود شريف وئيلي وي. (فردوس الاخبار، ج۲ص ۴۷۱ حديث:۸۲۱۰)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!　　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

(٧) د الله پاك آخِري نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: په ما باندې کثرت سره درود شريف لولئ بےشکه ستاسو په ما باندې درود شريف وئيل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامعُ الصغير، ص۸۷، حديث:۱۴۰۶)

## دَ صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم پينځه اِرشادات

﴿۱﴾ د ابوبکر صدّيق رضی اللہ عنہ فرمان دے چې په نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې درود شريف وئيل ګناهونه داسې زر ختموي چې اوبه هم داسې زر اُور نه مړ کوي او په نبي کريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې سلام وئيل د خټونو (يعني غلامانو) آزادولو نه افضل دي. (تاريخِ بغداد، ج۷ص۱۷۲)

﴿۲﴾ حضرت عائشه صدّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: تاسو خپل مجلِسونه په نبي كريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې درود شريف وئيلو باندې ښائسته كړئ. (تاريخ بغداد، ج۷ص۲۱٦)

﴿۳﴾ سيدُنا فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ فرمائي: بے شكه دُعا د زمكې او آسمان تر مينځه زوړنده وي او د هغې نه هيڅ هُم بره نه ځي تر څو پورې چې ته په خپل نبي اكرم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې درود شريف اُو نه وائے. (ترمذي، ج۲ص۲۸ حديث:٤٨٦)

﴿۴﴾ حضرت علي شيرِ خدا رضی اللہ عنہ فرمائي: د هر بنده دُعا په پرده كښې وي تر دې چې په نبي كريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم او آلِ محمد باندې درود اُووائي. (مُعجم اوسط، ج۱ص۲۱۱ حديث۲۷۱)

﴿۵﴾ حضرت سيدنا عبدُالله بن عمرو بن عاص رضی اللہ عنہما فرمائي: څوك چې په نبي كريم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې درود شريف اولوَلي په هغه باندې به الله پاك او د هغه فرِشتے 70 ځله رحمت ليږي. (مُسند امام احمد، ج۲ص٦١٤ حديث ٦٧٦٦)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## "اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ" د ديرشو حروفو په نِسبت د درود شريف 30 مدني ګلونه

(1) دُرُود شريف وئيل د الله پاك د حكم تعميل دے. (2) يو ځل دُرود شريف لوستونكي باندې لس رحمتونه نازليږي.(3) د هغه لس درجے

اوچتيږي. (4) د هغه د پاره لس نيکۍ ليکلے کيږي. (5) د هغه لس ګناهونه مُعاف کيږي. (6) د دُعا نه مخکښې دُرود شريف لوستل د دُعا د قبليدلو باعث دي. (7) دُرود شريف وئيل د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دَ شفاعت سبَب دي. (8) دُرود شريف لوَستل د ګناهونو د بخښنې ذريعه ده. (9) دُرود شريف سره **الله** پاك د بنده غمونه لرې کوي. (10) د دُرود شريف په برکت به بنده د قيامت په ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نزدے وي. (11) دُرود شريف د تنګدسته بنده د پاره د صدقے قائم مقام دے. (12) دُرود شريف د حاجت پوره کيدو ذريعه ده. (13) دُرود شريف وئيل د **الله** پاك رحمت او د فرشتو د دُعا باعث دي. (14) دُرود شريف د خپل لوستونکي د پاره د پاکيزګۍ او طهارت باعث دے. (15) دُرود شريف وئيوونکي بنده ته د مرګ نه مخکښې د جنّت خوشخبري ملاويږي. (16) درود شريف وئيل د قيامت د خطرو نه د نجات سبب دے. (17) دُرود شريف وئيلو سره هيره شوي خبره ياديږي. (18) دُرود شريف وئيل د مجلِس د پاکيزګۍ باعث دي او د قيامت په ورځ به دا مجلِس د حسرت باعث نه وي. (19) دُرود شريف وئيلو سره فَقر (تنګدستي) لرې کيږي. (20) دا عمل بنده د جنّت لارې ته نزدے کوي. (21) دُرود شريف پُل صِراط باندې د بنده د پاره د رڼرا د اِضافے سبب وي. (22) د درود شريف په ذريعه بنده د ظلم و جفا نه اُوځي. (23) دُرود شريف وئيلو سره بنده په زمکه او آسمان کښې قابلِ تعريف جوړ شي. (24) دُرود شريف

وئیوونکي ته د دې عمل په وجه د هغه د ذات، عمل، عُمر او بهترۍ په اسبابو کښې برکت حاصليږي. (25) دُرود شريف د رحمتِ خداوندي حاصلولو ذريعه ده. (26) دُرود شريف **اللّٰه** پاك سره د هميشه **محبّت** او په دې کښې د زيادتوالي سبب دے او دا **محبت** د ايماني تړون سره تَعَلُّق لري چې د دې نه بغير ايمان نه مکمل کيږي. (27) دُرود شريف وئيوونکي سره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبت** کوي. (28) دُرود شريف وئيل د بنده د هدايت او د زړه د مظبوطۍ سبب دے ځکه چې کله هغه په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره درود شريف لولي او د هغوئي ذِکر کوي نو د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **محبّت** د هغه په زړه کښې غالِب شي. (29) د درود شريف وئيوونکي يو اعزاز دا هُم دے چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې د هغه نوم پيش کيږي. (30) دُرود شريف پُل صِراط باندې د ثابت قدمۍ او سلامتۍ سره د تيريدلو باعث دے.

(جِلاءُ الافهام، ص۲٤٦تا۲٥۳ملتقطاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دَ نبي کريم ﷺ دِيدار کوونکي د پاره تُحفه

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى رُوْحِ مُحَمَّدٍ فِى الْاَرْوَاحِ وَ عَلٰى جَسَدِهٖ فِى الْاَجْسَادِ وَ عَلٰى قَبْرِهٖ فِى الْقُبُوْرِ

د نبيِّ کريم رَءُوْفٌ رَّحِيْم صَلَّی اللہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: څوك چې دا درود شريف اولولي هغه ته به په خوب کښې زما ديدار کيږي او چا چې زه په خوب کښې اوليدلم هغه به په ورځ د قيامت هم ما ويني او څوك چې ما په ورځ د قيامت اُوويني زه به د هغه شفاعت کووم او زه چې د چا شفاعت اوکړم هغه به د حوضِ کوثر نه اوبه څښي او د هغه بدن به الله پاك په دوزخ حرام کړي. (کشفُ الغمه عن جميعِ الامة، ج۱ص۳۲۵)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## بخښنه او مَغفِرت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كُلَّمَا ذَكَرَهُ الذَّاكِرُوْنَ وَ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كُلَّمَا غَفَلَ عَنْ ذِكْرِهِ الْغَافِلُوْنَ

يو کس امامِ شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس په خوب کښې اُوليدو او د حال تپوس ئې ترينه اوکړو نو هغوئي ورته اُوفرمائيل: **الله** پاك د دي دُرود شريف په برکت زما مغفِرت اُوکړو. (افضلُ الصلوٰت علٰى سيّدِ السّادات، ص۸۱، ملخساً)

## په مال کښې خير و بَرکت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَ رَسُوْلِكَ وَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ

صاحِبِ رُوحُ البيان فرمائي: څوک چې دا دُرُود شريف وائي د هغه مال و دولت به مسلسل زياتيږي- (تَفۡسِيرِ رُوحُ البَيان، الاحزاب:۵۶ ج ۷ ص ۲۳۳)

## حافِظه به ئې مضبوطه شي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَ سَلِّمۡ وَ بَارِكۡ عَلٰى سَيِّدِنا مُحَمَّدٍ
وَّ عَلٰى اٰلِهٖ كَمَا لَا نَهَايَةَ لِكَمَالِكَ وَعَدَّ كَمَالِهٖ

که چا ته د نِسيان يعني د هيريدلو بيماري وي نو هغه دِ د ماښام او ماسخُتن د لـمانځه نه پس دا درود شريف په کثرت سره لوَلي. اِنۡ شَآءَاللّٰه! حافِظه به ئې قوي شي. (افضلُ الصلوٰت عليٰ سيدِ السّدات ص ۱۹۲، ۱۹۱ملتقطاً)

صَـلُّـوۡا عَـلَى الۡـحَـبِـيۡـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دِين او دُنيا نعمتونه حاصل کړئ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ عَدَدَ اِنۡعَامِ اللهِ وَاِفۡضَالِهٖ

دا دُرُودِ پاك لوستلو سره د دِين او دُنيا بيشميره نعمتونه حاصليږي.

(افضَلُ الصَّلوٰة علٰى سَيِّدِ السَّادات ص ۱۵۱)

## دُرُودِ شَفاعَت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ اَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ يَوۡمَ الۡقِيَامَةِ

د شفيعِ **مَحشَر** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: ځوك چې داسې دُرُودِ پاك اولولي د هغه د پاره زما شَفاعَت واجِب شي. (اَلتَّرغِيْب وَالتَّرهِيْب ج٢ ص٣٢٩ حديث٣١)

## د دُنيا او آخِرت كاميابي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ وَ صَحْبِهٖ وَ سَلِّمْ

بِعَدَدِ مَا فِيْ جَمِيْعِ الْقُرْاٰنِ حَرْفًا حَرْفًا وَّ بِعَدَدِ كُلِّ حَرْفٍ اَلْفًا اَلْفًا

د قرآنِ كريم د تِلاوت نه پس چې ځوك دا دُرُودِ پاك لوَلي هغه به دُنيا او آخرت كښې كامياب اوسي. (تَفسِير رُوحُ البَيان، اَ.لْاَحزَاب٥٦: ج٧ ص٢٣٤)

## د يوولس زره دُرُودو ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ صَلٰوةً اَنْتَ لَهَا اَهْلٌ وَّ هُوَلَهَا اَهْلٌ

**حضرتِ** سَيِّدُنا حافِظ جَلالُ الدِّين اَلسُّيوطي اَلشَّافعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: د دې دُرُود شريف يو ځل لوستل د يوولس زره ځله درودو لوستلو برابر دي. (افضَلُ الصَّلوٰة علٰى سَيِّدِ السَّادات ص١٥٣)

## د څوارلس زره دُرُودِ پاك ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا

مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ عَدَدَ كَمَالِ اللهِ وَكَمَا يَلِيْقُ بِكَمَالِهٖ

دا دُرُودِ شريف صرف يو ځل لوستلو سره د څوارلس زرو دُرُود شريف ثواب حاصليږي. (افضَلُ الصَّلوٰة علٰی سَیِّدِ السَّادات ص۱۵۰)

## د يو لاك درود شريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا

مُحَمَّدِنِ النُّوْرِ الذَّاتِيِّ وَالسِّرِّ السَّارِيْ فِيْ سَائِرِ الْاَسْمَآءِ وَالصِّفَاتِ

دا دُرُودِ شريف چې صرف يو ځل اولوستلے شي نو **د يو لكو دُرُود شريف** لوستلو ثواب حاصليږي. او كه چا ته څه حاجت پيښ وي نو دا دُرُودِ پاك دِ پينځه سوه ځله اولولي. اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالٰی حاجت به ئې پوره شي. (افضَلُ الصَّلوٰة علٰی سَیِّدِ السَّادات ص۱۱۳)

## هر قِسم پريشانئ نه خلاصي د پاره

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ قَدْ ضَاقَتْ حِيْلَتِيْ اَدْرِكْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ

سَيِّدُنا اِبنِ عابِدِين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چې ما دا په يوه عظيمه فِتنه كښې اولوستو كومه چې دِمَشق كښې پيښه شوي وه، لا دوه سوه ځله مې هُم نه وو لوستلے چې يو كس راغے او ما ته ئې خبر راكړو چې فِتنه ختمه شوه. (افضَلُ الصَّلوٰة علٰی سَیِّدِ السَّادات ص۱۵٤)

## د آبِ كَوثر نه ډكه پياله

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَاَوْلَادِهٖ وَاَزْوَاجِهٖ وَذُرِّيَّتِهٖ

وَاَهْلِ بَيْتِهٖ وَاَصْهَارِهٖ وَاَنْصَارِهٖ وَاَشْيَاعِهٖ وَمُحِبِّيْهٖ وَاُمَّتِهٖ وَعَلَيْنَا

مَعَهُمْ اَجْمَعِيْنَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ

**حضرتِ** سَيِّدُنا حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي چې څوك د حَوضِ كَوثر نه ډكه پياله څښل غواړي هغه دِ دا دُرُودِ پاك اولولي. (اَلْقَوْلُ البَدِيع ص١٢٢)

## د ''رَسُولِ رَحمَت'' د آته حُروفو په نِسبَت د دُرُودِ تاج ٨ مَدَني ګلونه

﴿١﴾ څوك چې د مياشتې په شروع كښې (يعني د مياشتې د وړومبۍ شپې نه څوارلسمې پورې) د جُمُعے په شپه د ماسخُتن د لـمانځه نه پس په اوداسه كښې پاكې جامے واغوندي او خوشبو اولګوي او يو سل آويا ځله دا دُرُودِ پاك اولولي او اُوده شي، يوولس شپے مسلسل هُم داسې اوكړي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى د حُضُور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ديدار شَرف به حاصل كړي.

﴿٢﴾ د جادو، ښاپيرو، پيريانو او شيطان دفع كولو د پاره او د غټو ننكو د پاره ئې يوولس ځله اولولئ او پرې دم ئې كړئ اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰى فائده به حاصله شي.

﴿٣﴾ د زړه د صَفائي د پاره دِ هره ورځ د سحر د لـمانځه نه پس **شپيته ځله** او د مازديګر د لـمانځه نه پس درې ځله او د ماسخُتن د لـمانځه نه پس درې ځله [د دې] وظيفه كوي.

﴿٤﴾ د دُښمنانو، ظالـمانو، حاسِدانو او حاكِمانو د شر نه **محفوظه** اوسيدو د پاره او غم او غريبي لرې كولو د پاره **څلويښت** شپے مسلسل د ماسخُتن د لـمانځه نه پس 41 ځله لوَستل پكار دي.

﴿۵﴾ په روزئ کښې بَرَکت د پاره هره ورځ 7 ځله د سحر د لــمانځه نه پس لوستل پکار دي.

﴿۶﴾ د عَقِيمَه (يعني شنډې ښځې) د پاره 21 چوهارے [راواخلئ او يوه يوه چوهاره] په ووه ووه ځله لوستلو دَم کړئ. هره ورځ دِ يوه يوه چوهاره خوري او د حيض نه پاکيدو نه پس (د پاکئ په ورځو کښې) دِ همبِستري اوکړي په فضل د **الله** جَلَّ جَلَالُہٗ نيك ځوئ به ئې پيدا شي.

﴿۷﴾ که حامِله په تکليف کښې وي نو ووه ورځې مسلسل پرې ورله اوبه دموئ هغه دِ ښبي.

﴿۸﴾ د پاره د مواصِلتِ طالِب و مطلوب (د جائز محبَّت مَثَلًا د ښځې او خاوند په مينځ کښې د محبَّت) او د هر مقصد د پاره د نيمې شپې نه پس دِ په اَوداسه کښې خلويښت ځله د صِدق او يقين سره اولولي اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د زړه مقصد به ئې حاصل شي. (اعمالِ رضا ص۲۲)

## درودِ تاج

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ صَاحِبِ التَّاجِ وَالْمِعْرَاجِ وَالْبُرَاقِ وَالْعَلَمِ دَافِعِ الْبَلَآءِ وَالْوَبَآءِ وَالْقَحْطِ وَالْمَرَضِ وَالْاَلَمِ اِسْمُهٗ مَكْتُوبٌ مَّرْفُوعٌ مَّشْفُوعٌ مَّنْقُوشٌ فِى اللَّوْحِ وَالْقَلَمِ سَيِّدِ الْعَرَبِ وَالْعَجَمِ جِسْمُهٗ مُقَدَّسٌ مُّعَطَّرٌ مُّطَهَّرٌ مُّنَوَّرٌ فِى الْبَيْتِ وَالْحَرَمِ شَمْسِ الضُّحٰى بَدْرِ الدُّجٰى صَدْرِ الْعُلٰى نُورِ الْهُدٰى كَهْفِ الْوَرٰى مِصْبَاحِ الظُّلَمِ جَمِيْلِ الشِّيَمِ شَفِيْعِ الْاُمَمِ صَاحِبِ الْجُوْدِ وَالْكَرَمِ وَاللّٰهُ عَاصِمُهٗ وَجِبْرِيْلُ

خَادِمُهٗ وَالْبُرَاقُ مَرْكَبُهٗ وَالْمِعْرَاجُ سَفَرُهٗ وَسِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى مَقَامُهٗ وَقَابَ قَوْسَيْنِ مَطْلُوْبُهٗ وَالْمَطْلُوْبُ مَقْصُوْدُهٗ وَالْمَقْصُوْدُ مَوْجُوْدُهٗ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ شَفِيْعِ الْمُذْنِبِيْنَ اَنِيْسِ الْغَرِيْبِيْنَ رَحْمَةٍ لِّلْعَالَمِيْنَ رَاحَةِ الْعَاشِقِيْنَ مُرَادِ الْمُشْتَاقِيْنَ شَمْسِ الْعَارِفِيْنَ سِرَاجِ السَّالِكِيْنَ مِصْبَاحِ الْمُقَرَّبِيْنَ مُحِبِّ الْفُقَرَآءِ وَالْغُرَبَآءِ وَالْمَسَاكِيْنِ سَيِّدِ الثَّقَلَيْنِ نَبِيِّ الْحَرَمَيْنِ اِمَامِ الْقِبْلَتَيْنِ وَسِيْلَتِنَا فِي الدَّارَيْنِ صَاحِبِ قَابَ قَوْسَيْنِ مَحْبُوْبِ رَبِّ الْمَشْرِقَيْنِ وَالْمَغْرِبَيْنِ جَدِّ الْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ مَوْلَانَا وَمَوْلَى الثَّقَلَيْنِ اَبِي الْقَاسِمِ مُحَمَّدِ ابْنِ عَبْدِاللهِ نُوْرٍ مِّنْ نُوْرِ اللهِ يَآاَيُّهَا الْمُشْتَاقُوْنَ بِنُوْرِ جَمَالِهٖ صَلُّوْا عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا

ترجَمه: اے **الله**! جَلَّ جَلَالُهٗ رَحمت اُوفرمائے زمونږ په سردار او زمونږ په آقا **مُحَمَّد** د تاج او مِعراج والا، د بُراق او اوچتوالي والا باندې، د بلاګانو او وَباء، قحط، مَرَض، غم او مصيبت لرې كولو والا باندې، د چا مبارك نوم چې لِيك دے اُوچت دے او د **الله تعالٰی** د نوم سره يو ځائے نقش دے په لَوحِ محفوظ او قَلَم كښې رنګ كړے شوے، د عرب او عَجَم سردار، د چا بدن مبارك چې د هر عيب نه پاك دے، د خوشبو مَنبع، ډير زيات پاكيزه، نُورٌ عَلٰى نُور، په خپل كور او حَرَم كښې (د هغه ټولو احوالو سره نن هُم موجود دے)، د سحر ښائِسته شَمس، د ځوارلسمي سپوږمئ، د اوچتوالي ماخذ، د هِدايت نُور، د مخلوق د پناه ځائے، د تِيارو چراغ، بهترينو اخلاقو او عادت والا، د اُمَّتونو شَفاعَت كولو والا، د سَخاوَت او كَرَم په

وَالي باندې دُرُود او سلام. او **الله تعالیٰ** د هغوئي حفاظت کوونکے دے، جِبرِيلِ اَمِين ئې خادِم دے او بُراق ئې سوَرلي ده، مِعراج د هغوئي سَفَر دے او سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى د هغوئي مُقام دے او قَابَ قَوسَين (کمال قُربِ اِلٰهی) د هغوئي مطلُوب دے او مطلُوب يعني کمال قُربِ اِلٰهی هُم هغه مقصود دے او مقصود حاصل شوے دے. د ټولو رسولانو سردار، د ټولو نبيانو نه پس راتلو والا، د ګنهګارو شفاعت کوونکے، د مسافرو او نا اشنا خلقو غم لرې کوونکے، په ټولو جهانونو باندې رَحم کولو والا، د عاشقانو راحَت او د مُشتاقانو مُراد، د ټولو عارفانو [د پاره] د لـمر سترګه، د سالِکانو چراغ، د مُقرّبِينو شمع، د فقيرانو، پرديسيانو او مِسکينانو سره مَحبَّت او اُلفَت لرلو والا، د پيريانو او اِنسانانو سردار، د حَرَمِ مَکَّه او حَرَمِ مدينه نبي، د بيتُ المقدس او خانه کعبے دوارو قِبلو اِمام، په دُنيا او آخِرت کښې زمونږه وَسِيله، د قَاب و قَوسَين د خوشخبرئ والا، د مشرقونو او مغربونو د رب حبيب، د اِمام حسن او اِمام حُسَين نيکه، زمونږه آقا، د ټولو پيريانو او اِنسانانو والي، يعني اَبُو القاسِم محمد بِن عبدالله، د **الله تعالیٰ** د نُور نه، د عَظَمَت او اوچتوالي والا نُور باندې دُرُود او سلام، د هغوئي د نُورِ جَمال عاشقانو، ډير ډير سلام اوليږئ د هغوئي د اوچتو صِفاتو لرونکي ذات باندې او د هغوئي په آل او اصحاب باندې.

## د دُرودِ تُنَجِّينا په باره کښې ايمان تازه کوونکے حِکايَت

عَلّامه اِبنِ فاکِهاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيْه په کتاب "اَلْفَجْرُ الْمُنِيْر" کښې د دې دُرُود شريف په باره کښې يوه واقعه بيانوي، فرمائي چې يو پاکبازه شيخ موسیٰ ضرير رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيْه ما ته بيان کړي دي چې هغوئي د کشتۍ په ذريعه په سمندري سفر روان شو، په لاره کښې ډير سخت طوفان ګير کړلو چې هغې ته اِقلابِيَه (يعني په بل مخ اړولو والا) وائي. ډير کم خلق دي چې په دې طوفان کښې نبتلو نه پس د ډوبيدو نه بچ شوي دي، خلقو د ډوبيدو د ويرې چغې او سُورې وهل شروع کړل، ما له خوب راغے، په خوب کښې مې د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار اوکړو، خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: کشتۍ والؤ ته اووايه چې يو زر ځله دا دُرُود شريف اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى آلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلَاةً تُنَجِّيْنَا بِهَا نه واخله د بَعْدَ الْمَمَاتِ پورې اولولي. زه رابيدار شوم او کشتۍ والؤ ته مې خوب بيان کړو. مونږه په شريکه صرف درې سوه ځله وئيلے وو چې **اللّٰه** تعالیٰ د طوفان نه خلاصے راکړو. (مَطَالِعُ الْمُسَرَّات ص۴۷۱)

شيخ مَجدُ الدِّين فيروز آبادي قاموس، د شيخ حَسَن بِن علي اسواني په حواله بيان کړي دي چې څوك دا درود شريف (دُرُودِ تُنَجِّيْنا) په هر مشکِل، آفت يا مصيبت کښې يو زر ځله اولولي، **اللّٰه** تعالیٰ به هغه مشکِل آسان کړي او د هغه مقصد به پوره کړي. (مَطَالِعُ الْمُسَرَّات ص۴۷۱)

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ صَلٰوۃً تُنَجِّیْنَا بِھَا مِنْ جَمِیْعِ الْاَھْوَالِ وَالْاٰفَاتِ وَتَقْضِیْ لَنَا بِھَا جَمِیْعَ الْحَاجَاتِ وَتُطَھِّرُنَا بِھَا مِنْ جَمِیْعِ السَّیِّئَاتِ وَ تَرْفَعُنَا بِھَا اَعْلَی الدَّرَجَاتِ وَتُبَلِّغُنَا بِھَا اَقْصَی الْغَایَاتِ مِنْ جَمِیْعِ الْخَیْرَاتِ فِی الْحَیَاۃِ وَبَعْدَ الْمَمَاتِ اِنَّكَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ! په سَیِّدنا حضرت محمد (صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې داسې رَحمت نازل کړې چې ته د هغوئي په سبب مونږ ته د ټولو ویرو او آفتونو نه خلاصے راکړې او د هغوئي په سبب زمونږه ټول حاجتونه پوره کړې او د هغوئي په خاطر مونږه د ټولو ګناهونو نه پاك کړې او د هغوئي په ذريعه مونږه په اوچتو درجو فائز کړې او د هغوئي په بَرَکت مونږه د ټولو نیکو آخري اِنتِها ته اُورسوې، په ژوند کښې او د مرګ نه پس او بیشکه ته په هر خيز قادِر ئې.

## د مرضونو نه شِفا

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ طِبِّ الْقُلُوْبِ وَدَوَآئِھَا وَعَافِیَۃِ الْاَبْدَانِ وَشِفَآئِھَا وَنُوْرِ الْاَبْصَارِ وَضِیَآئِھَا وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ

په اوداسه کښې ئې د مريض د پاره اوليکئ، هغه دِ ئې په ژبه اوڅټي، یا ئې په اوبو کښې حل کړئ او په هغه ئې اوڅښئ. د شِفا کیدو پورې دا عمل برابر جاري ساتئ، بِإِذْنِ الله د مرګ نه سِوا هر مرض د پاره فائده مند دي.

## د دُرُودِ ماهي په باره کښې د مهي حِکايت

يو بزرګ رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د درياب په غاړه اَودَس کولو چې يو مَهے راغے او هغه [مهي] دا دُرُود اُووئيلو. هغوئي ترينه تپوس اوکړو چې دا دِ د چا نه زده کړے. هغه مهي جواب ورکړو چې يو ځل مې د درياب په غاړه د يوې فرښتے نه اوريدلے وو او ياد مې کړو، د هُم هغه ورځې نه د هر آفَت او مصيبت نه محفوظ يم. (اَعمالِ رضا ص۱۳۸)

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ خَيْرِ الْخَلَآئِقِ وَاَفْضَلِ الْبَشَرِ وَشَفِيْعِ الْاُمَمِ يَوْمَ الْحَشْرِ وَالنَّشْرِ وَصَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ بِعَدَدِ كُلِّ مَعْلُوْمٍ لَّكَ وَصَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ وَصَلِّ عَلٰى جَمِيْعِ الْاَنْبِيَآءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَصَلِّ عَلٰى كُلِّ الْمَلٰٓئِكَةِ الْمُقَرَّبِيْنَ وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ وَسَلِّمْ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا بِرَحْمَتِكَ وَبِفَضْلِكَ وَبِكَرَمِكَ يَا اَكْرَمَ الْاَكْرَمِيْنَ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ يَا قَدِيْمُ يَا دَآئِمُ يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ يَا وِتْرُ يَا اَحَدُ يَا صَمَدُ يَا مَنْ لَّمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ


صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ


## نیك او لـمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لـمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ الـمدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com